# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
| --- | --- |

انجینر داؤد اڅک
۰۲ جولای ۲۰۱۸

## د صلحي ارزښت او ټینګښت

په درې ورځني اوربند کي چي د طالبانو او حکومت تر منځ د ۱۳۹۷ هش کال د کوچني اختر په وياړ اعلان سو د مظلوم اولس سپيڅلو احساساتو چي د خوښۍ تودې اوښکي ورسره بهيدلي زه اړ کړم چي د صلحي په هکله خپل باور او نظر ستاسو درنو هيوادوالو سره شريک کړم .

صلحه عربي کليمه ده چي د تړون ، قرارداد يا پيمان معنا ورکوي خو په افغاني ادبياتو کي د پخلاينې يا اشتي په مفهوم ده چي د جنګ يا حرب په مقابل کي استعماليږي . اما په اصطلاح يا عام مفهوم کي هغه ټولنيز شرايط دي چي د يوې ټولني ټول خلګ ازاد، ارام او بيله کوم تشويش او تضاد څخه ژوند وکړي . يعني د ټولني هر وګړی په هر قوم او مذهب پوري چي اړه لري بايد بيله کوم خطر او تشويش څخه په ازادانه ډول ژوند وکړي، تعليم وکړي ، عبادت وکړي ، سياست او تجارت وکړي .

که لږ څه مخته ولاړ سم صلحه ژوند دی، عشق دی، انسانيت دی، ټولنيز او بشري ضرورت دی، د جهان، تمدن او افغانستان د حفظ او ساتني ضمانت دی . که په علمي او فلسفي عينکو کي ورته وګورو صلحه د ټولني شکل او مضمون دی . يعني بيله صلحي څخه منظمه ټولنه نسي تعريف کيدای ، لهذا صلحه په ټولنه کي د ملي ارزښتنو ستون فقرات دی، په هره ټولنه کي چي صلحي فرار کړی وي او جنګ حاکم وي د هغي ټولني به ټول ملي ارزښتونه برباد وي، ملي شتمنی ، دولتي بنسټونه به ئې وران وي او خلګ به ئې په بې کاري، بې عزتي، ژړا او محتاجي کي ژوند کوي لکه جنګ ځپلي افغانستان او په جنګ کي نور ښکيل هيوادونه . ځکه ويلای سم چي صلحه د ټولني او بشريت لپاره يو « بايد » دی .

اوس په افغانستان کي صلحه څنګه ټينګيدای سي ؟

په افغانستان کي د خونخور جنګ دوام او د عادلانه ، ټل پاتي او سرتاسري صلحي نه ټينګښت دوه غښتلي لاملونه لري، يو بنسټيز لامل ئې بهرنی او بل ئې کورنی دی .

۱- بهرنی لامل ئې موږ او تاسو په نړی او افغانستان کي وينو چي د پرديو او زور واکو هيوادو تجاوزونه دي پر غريبو او ضعيفو هيوادو باندي، يعني بهرني زور واکان پخپل ساړه جنګ کي د برې لپاره چي د خپلو جيوپاليتيک او

جيو ستراتيژيکو ګټو لپاره ئي پر لاره اچولی دی پر کمزورو او بې واکه هيوادو باندي د منځنيو پيړيو په شان خو په نوو پلمو او نيرنګ سره حملې کوي، اشغالوي ئي او بالاخره د خپلو ګټو په خاطر جنګ پر تحميلوي . دغه بهرنی لامل به تر هغو پوري په نړۍ کي ساړه او کله هم تاوده جنګونه رازيږوي تر څو چي جابره هيوادونه انسانيت ته نه وي راګرځيدلي، يعني د غريبو او مخ پرانکشافه هيوادو انسانانو ته په انسانيت سره نه وي قائله سوي او ددوی ساليمو حقوقو او ازادۍ ته ئي غاړه نه وي ايښې .

زه باورمند يم که نن طالبان صلحه وکړي سبا به داعيش د مختليفو هيوادو لخوا په ډول د ډولو حمايه کيږي او د جنګ د دوام په خاطر به استعماليږي، همداسي که سبا داعيش صلحه وکړي زه متيقين يم چي بل سبا به د خراسان يا بل ګروپ راپورته کيږي او پر مظلوم افغان اولس باندي به روان تحميلي جنګ جاري ساتل کيږي .

لنډه دا تر څو چي نړيوال زبرځواکونه پخپلو ګريوانو کي و نه ګوري او خپله ځان غوښتنه او ډير څه غوښتنه محار نکړي او بالاخره پخپلو منځو کي صلحه سره ونکړي د افغانستان په شان په غريبو او ضعيفو ملکو کي به همدغه ناورين روان وي او د زورمندو هيوادو لخوا به په بيلو وختو کي په مستقيم يا غير مستقيم ډول مداخلې او حملې پر کيږي .

۲- دوهم مهيم او بنسټيز لامل چي صلحه ئي د افغان مظلوم اولس څخه خوابدي کړيده داخلي لامل دی . هغه داچي د افغانستان پوهان، روڼ اندي، ښکارهنګيان (فرهنګيان) په تيره بيا سياسيون د صلحي و تأمين ته په کلکه ندي ړمن او د صلحي سره د خپلو قومي او سياسي علايقو او عقايدو پر بنسټ چلند کوي نه د يوه ملي ارزښت او ملي بنسټيز ضرورت پر بنسټ .

يعني اوس په افغانستان کي د صلحي سره درې ډوله چلند کيږي . عاطفي، قومي او سياسي .

- عاطفي په دې معنا چي ډيرئ افغانان ليدل کيږي چي د يوې تراجدي او خونړۍ پيښي وروسته خدای تعالی ته د دعا يا ښرا غوښتنه کوي او وايي چي خدايه دښمن مو خراب او ټوک ټوک کړې، يا پخپل زخمي احساس سره د خدای تعالی څخه غواړي چي خدای تعالی ژر تر ژره په هيواد کي صلحه ټينګه کړي، خو خپله عملاً څه نه کوي.

- قومي چلند دادی چي د ورونو قومونو ډيرئ سياسيون او پوهان چي قومي فکر کوي په دې اند دي چي مسلح مخالفين پښتانه دي ځکه نو ددوی سره صلحه کول او ددوی شامليدل په سياسي پروسه کي د ځان او قوم په تاوان بولي .

- سياسي چلند ته که وګورو اکثره سياسيون پښتانه دي که غير پښتانه د طالبانو سره سياسي اختلافات لري، يعني د طالبانو په سياسي کړنلاره او په سياسي هويت کي خپل ځانونه پردي بولي او دا ورته ثابته ده که چيري مسلح مخالفين سياسي ډګر ته را وبلل سي ددوی د موقف او عقايدو په تاوان دي . ځکه نو سياسيون هم د قومي او عاطفي چلند په شان د صلحي سره چي د ټولني ښارګ دی سوړ او بې توپيره چلند کوي . لهذا په جنګ ځپلي افغانستان کي خونړۍ جنګ ادامه لري او هره ورځ په لس هاوو مندي بوري کيږي، په سلهاوو کوچنيان يتيمان کيږي او په لسهاوو ناويانې په تورو سترګو او سرو لاسو باندي کونډي کيږي .

اوس نو که چيري افغانان په رشتيا سره غواړي چي په جنګ ځپلي افغانستان کي عادلانه، تل پاتې او سرتاسري صلحه رامنځته سي نو ټوله افغانان بايد په يوه صلاح د صلحي سره جدي او ملي برخورد وکړي نه قومي او سياسي .

نسخه داده چي ټول افغاني پوهان، روشنفکران، ښکارهنګيان (فرهنګيان) او سياسيون بايد ټوله په شعوري ډول دا ومني چي جنګ ملي دښمن دی او د ټولو په تاوان دی چپ دی که راست، شمال دی که جنوب، جنګ د افغانستان ملي بنسټونه، ملي ګټې او ملي ارزښتونه د منځه وړي .لهذا تر هر څه لومړی بايد د ملي ګټو د ساتلو لپاره خپل منځي هر

ډول اختلافات شاته پرېږدو او د مظلوم اولس سره چي د صلحي تږی دی يو ځای د صلحي سرتاسري، ملي او افغاني بړغ راپورته کړو .

داچي رنځيدلی او ژړيدلی افغان اولس پيش قدمه سو او په وينو رنګ هلمند څخه ئي د صلحي د کاروان په نامه اولسي بړغ راپورته کړ پرځای او طلايي چانس دی چي ټوله سياسيون، ښکارهنګيان ( فرهنګيان)، روشنفکران او پوهان ددغه بړغ او حرکت سره په پوره صداقت باندي يو ځای سي او دغه حرکت ته ملي شکل ورکړي، سرتاسري ئي کړي، اولسي ئي کړي او بلاخره ئي بايد د ټولو افغانانو يو واحد بړغ کړي .

که څه هم اولس مشرغني د صلحي د کاروان سره په مينه وليدل او لفظي حمايت او محبت ئي ورته ښکاره کړ خو نداچي د صلحي د کاروان سره مالي او استوګنځي کومک و نسو بلکه د صلحي کاروان ئي د اصلي مسير څخه چي په کابل کي د امريکا د سفارت مخته د تحصن د خيمي وهل وه منصرف کړ .

څومره به ښه وای چي ښاغلي اشرف غني د ګلبدين حکمت يار د کلنيز مصرف څخه چي پنځه مليونه ډالر دي ۵۰ زره ډالر ئي د صلحي اولسي کاروان ته منلي وای، اما دا کار ونه سو .

پايله دا که چيري ټول افغانان په سر کي سياسيون، روشنفکران او ښکارهنګيان (فرهنګيان) په کلک هوډ او پوره صداقت سره د افغانستان او ملي ګټو د ژغورني لپاره د صلحي تر شعار لاندي سره راټول سي بيله شکه به پخپل ملي قوت سره هم امريکا او ناتو ته او هم مسلح مخالفينو ته سور خط کش کړاي سي او په پوره جرئت به د جنګ ختميدل او د عادلانه، تل پاتي او سرتاسري صلحي تآمينول په ومنلای سي .

که داسي ونسي نو د زبرځواکونو د سطرنج لوبه به روانه وي او د بې هويته او بې وجدانه ګاونډيانو پذريعه به مو په ډول ډول نومونو سره جنګوي او اوسنی ناورين به روان وي .

۱ ــ ۷ - ۲۰۱۸